د تخيکي او مسلکي زده کړو اداره

د تخنيکي او مسلکي زده کړو جنوب ختيځ (غزني) زون رياست

پکتيکا د تخنيکي او مسلکي زده کړو آمريت

مرکز کثرالرشتوی  انستيتوت

ډيټابيس څانګه

# د پروګرام ليکني اساسات (C++)

YAD

ټولګي: ديارلسم

سمستر:دوهم

لارښود او ايډيټ: استاد فريد احمد «ياد»

ژباړونکي: ذبيح الله «تتيوال»

Ketabton.com

کال..........................................................................................1405

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی فصل

دا فصل د پروګرام لیکنې د بنسټیزو او ابتدايي مفاهیمو لکه د پروګرام لیکنې اهمیت، تعریف او تاریخچه، او د پروګرام لیکنې د چاپیریال په اړه دی، چې موضوعګانې یې په ترتیب سره په تفصیل سره بحث شوي دي.

کمپیوټر یو الکترونیکي وسیله ده چې د مختلفو مسایلو د حل لپاره کارول کیږي .د» مسألو « (Problems)څخه هدف هغه ستونزې یا ننګونې دي چې موږ یې د کمپیوټر په مرسته د حل لارې پیدا کوو .د مسألې د مفهوم د روښانتیا لپاره لاندې مثالونه په پام کې ونیسئ:

• مسأله (Problem) په انجینرۍ برخه کې کېدای شي د یو موټر ډیزاین کول یا د یوې ودانۍ د نقشې جوړول وي.

• مسأله په طبي برخه کې کېدای شي د ناروغیو دقیق تشخیص، د روغتون د مدیریت سیستم کمپیوټري کول، یا د یو روغتون د درملو د ګودام ساتنه وي.

• مسأله په سوداګرۍ برخه کې کېدای شي د بانکي معاملو کمپیوټري کول، د شتمنیو او مالونو لېست، د اسعارو بازار کنټرول، د مالیاتو محاسبه، یا د بانکي حساب ساتنه وي.

نو ویلی شو چې د کمپیوټر په مرسته د مسایلو حل کول یو ستونزمن خو په عین حال کې نوښتګر بهیر دی، ځکه چې دا بهیر تحلیل، تجزیه، پلان جوړونه او منطقي تصمیم نیونه پکې شامل وي .د یادونې وړ ده چې د مختلفو مسایلو د حل لپاره باید اړین او منطقي ګامونه پورته شي تر څو سم او مطلوب حل ته ورسیږو.

## ۱.۱ پروګرام لیکنه

پروګرام لیکنه په حقیقت کې د یوې مسألې د حل لارې موندلو بهیر دی .د پروګرام لیکنې ژبه د کمپیوټر لپاره د کوډونو د لیکلو لپاره کارول کیږي.

د پروګرام لیکنې ژبه د هغو لارښوونو مجموعه ده چې د هغې له لارې کمپیوټر ته امر کیږي څو

ketabton.com - The Digital Library

ځانګړي عملیات ترسره کړي .دا پروګرام لیکونکی دی چې د بېلابېلو پروګرامي ژبو په مرسته کمپیوټر ته لارښوونه کوي تر څو مطلوب عملیات ترسره کړي.

## ۱.۲ د پروګرامي ژبو تاریخچه

په ۱۹۶۰ کال کې یو شمېر پروګرامي ژبې رامنځته شوې چې هرې یوې ځانګړې کاروني لرلې .خلکو فکر وکړ چې ولې د څو ژبو د زده کړې پر ځای یوه داسې ژبه ونه زده کړي چې په ټولو برخو کې وکارول شي .له همدې امله نړیوالې کمېټې د Algol 60 ژبه رامنځته کړه، خو دا ژبه سترې کوونکې او ډېره عمومي وه، د خلکو له خوا یې ښه استقبال ونه شو او له همدې امله ناکامه شوه.

له دې وروسته یوه نوې ژبه د کمپیوټر د ترکیبي ژبې په نوم CPL (Combine Programming Language)د کمبریج پوهنتون له خوا رامنځته شوه .وروسته معلومه شوه چې د دې ژبې زده کړه او عملي کول ډېر ستونزمن دي .له دې وروسته بله ژبه د BCPL (Basic Combined Programming Language)په نوم رامنځته شوه، په دې هیله چې پخوانۍ ستونزې ونه لري، خو څرګنده شوه چې دا ژبه کمزورې ده او یوازې په ځانګړو برخو کې کارېده.

په همدې وخت کې بله ژبه د B په نوم رامنځته شوه چې د یونکس (Unix) عملیاتي سیستم لپاره د کین تامسن (Ken Thompson) له خوا په AT&T Bell لابراتوار کې لیکل شوې وه.

په ۱۹۷۲ کال کې یو بل شخص چې ډینس ریچي (Dennis Ritchie) نومېده، د B او BCPL د ځینو ځانګړتیاوو او خپلو نظریاتو په یوځای کولو سره یوه نوې ژبه جوړه کړه چې د C ژبې په نوم یادیږي .C ژبه یوه عمومي پروګرامي ژبه ده .دا ژبه د دې لپاره جوړه شوې وه چې د یونکس عملیاتي سیستم کوډونه بیا ولیکل شي.(Jones & Aitken, 2014)

په ۱۹۷۹ کال کې پروګرام لیکونکي بیارن ستراستروپ (Bjarne Stroustrup) د امریکا د نیوجرسي ایالت په Bell لابراتوار کې د **C++ ژبې** پر جوړولو کار پیل کړ .C++ د C ژبې پرمختللې بڼه ده او د شیګرا (Object Oriented Programming) ژبو له ډلې څخه شمېرل کیږي .دا ژبه ګرافیکي او دوستانه چاپېریال لري او زده کړه یې نسبتاً اسانه ده.

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، C++ د C پرمختللې بڼه ده او تقریباً ټول هغه پروګرامونه چې په Cکې چلېږي، په C++ کې هم اجرا کېدای شي .د C++ مهمه ځانګړتیا دا ده چې پکې د کلاسونو (Classes)، وراثت (Inheritance) او دندو (Functions) مفاهیم شامل دي .دا ځانګړتیاوې د

ketabton.com - The Digital Library

دي لامل شوي چي پیچلي ډیټا ډولونه (Abstract Data Types) جوړ شي، د کلاسونو ځانګړتیاوې میراث شي او د خو بنو ملاتړ (Polymorphism) وکړي (Jones & Aitken, 2014).

په عمومي ډول، د پروګرام لیکنې ژبې په پنځو ډلو وېشل کېږي:

1. د ماشین ژبه
2. د ټیټې کچې ژبې
3. د لوړې کچې ژبې
4. د څلورم نسل ژبې
٥. د پنځم نسل ژبې

اوس به هره یوه له دغو ډلو ژبو په بحث کې وڅېړو:

## د ماشین ژبه

ماشین ژبه هغه ژبه ده چي له 0 او 1 څخه جوړه شوې وي او د کمپیوټر لپاره د پوهېدو وړ وي .یعنې اړتیا نه وي چي د 0 او 1 کوډونه د کوم ژباړن ( Compiler) یا ( Interpreter)له لارې وژباړل شي تر څو کمپیوټر یې درک کړي.

## د ټیټې کچې ژبې(Low Level Languages)

دا هغه ژبې دي چي له ماشین ژبې سره ډېر ورته والی لري .د دې ژبو لاربنووني د ځانګړو سمبولونو په بڼه وي چي د هغو په وسیله بېلابېل پروګرامونه جوړېږي .د اسمبلی ژبه (Assembly) هم د ټیټې کچې ژبو له ډلې څخه ده .یادونه کېږي چي د اسمبلر (Assembler) ژباړن د اسمبلی ژبې د جملو د ماشین ژبې ته د ژباړې لپاره کارول کېږي.
د ټیټې کچې ژبو جملې د کمپیوټر لپاره د انسان په پرتله اسانه وي، ځکه چي دا ژبې له ماشین ژبې سره زیات ورته والی لري.

## د لوړې کچې ژبې(High Level Languages)

دا هغه ژبې دي چي جملې یې د انسان په ژبه جوړې او ترتیب شوې وي .له همدې امله په دې ژبو کې پروګرام لیکل د پروګرام لیکونکي لپاره اسانه وي .خو کمپیوټر دا ژبې مستقیم نه شي پېژندلی، نو

ketabton.com - The Digital Library

ژباړي ته اړتيا لري .له همدې امله دا ژبې د کمپايلر (Compiler) يا انټرپريټر (Interpreter) په وسيله ژباړل کيږي.

لکهJava :، BASIC ، COBOL او C++ د لوړې کچې ژبو له ډلې څخه دي.

## د څلورم نسل ژبې(Fourth Generation Languages)

دا ژبې هم د لوړې کچې ژبو له ډلې څخه دي، خو په دې کې پروګرام ليکنه لا اسانه وي .دا ژبې زياتره د ډيټابيسونو د جوړولو لپاره کارول کيږي. لکهFoxPro :، MySQL او Oracle د څلورم نسل ژبو له ډلې څخه دي.

## د پنځم نسل ژبې

دا نوې ژبې هم د لوړې کچې ژبو له ډلې څخه دي .د دې نويو ژبو ځانګړې توپير له نورو ژبو سره دا دی چې په دې ژبو کې پروګرام ليکنه اسانه وي، ځکه د پنځم نسل ژبې له ګرافيکي ژبو څخه دي . Java، Visual Basic او C++ د شيګرا ژبو له ډلې څخه ګڼل کيږي.

### ۱.۳د ژبې ژباړونکي(Translators Language)

لکه څنګه چې ټولو ته معلومه ده، کمپيوټر يوازې 0 او 1 پيژني .په بل عبارت، د کمپيوټر ژبه 0 او 1 ده .کله چې يو کوډ يا بيان (Statement) په لوړو ژبو کې وليکل شي، کمپيوټر يې نه شي درک کولی او اړتيا وي چې دغه کوډ د 0 او 1 ژبې ته واړول شي تر څو کمپيوټر يې وپيژني او مطلوب عمل ترسره کړي .له همدې امله ټولې پروګرامي ژبې ژباړونکي لري چې د لوړې کچې ژبې کوډونه د ماشين ژبې( 0او 1 ) ته بدلوي.

په عمومي ډول درې ډوله ژباړونکي شته چې په لاندې ډول دي:

#### ۱.۳.۱اسمبلر(Assembler)

دا ژباړن د اسمبلی ژبې کوډونه د ماشين ژبې ( 0او 1 ) ته بدلوي .د اسمبلر ژباړن يوازې د اسمبلی ژبې لپاره کارول کيږي .اسمبلی ژبه له ټيټې کچې ژبو څخه ده او په کې پروګرام ليکل هم ستونزمن وي، له همدې امله اوس مهال د اسمبلی ژبې استعمال ډېر کم شوی دی.

## ۱.۳.۲ کمپایلر(Compiler)

دا ژباړن د لوړې کچې ژبو کوډونه د کمپیوټر ژبې ( 0او1 ) ته بدلوي .د ++C ژبه او یو شمیر نورې پروګرامي ژبې له کمپایلر څخه استفاده کوي .دا ژباړن د پروګرام ټول کوډونه په پای کې، وروسته له دې چې پروګرامر د Run تڼۍ کېکاږي، په 0 او 1 بدلوي .که په پروګرام کې کومه تېروتنه موجوده وي، لکه د سیمي کولن (;) نه لیکل د یوې جملې په پای کې یا کومه غلطه لاربښوونه، نو کمپایلر دغه تېروتنې پیدا کوي او د پیغام په شکل یې پر سکرین ښیي .پروګرامر وروسته له دې چې پیغام ولولي، تېروتنې سموي او پروګرام بیا اجرا (Run) کوي .که ټولې تېروتنې سمې شوې وي، پروګرام اجرا (Execute) کېږي او پایلې پر سکرین ښکاري.

## ۱.۳.۳ تفسیر کوونکی(Interpreter)

دا ژباړن پروګرام کرښه په کرښه ژباړي .په دې معنا چې کله پروګرام لیکونکی یوه جمله بیانیه په بشپړ ډول ولیکي او د کیبورډ د Enter تڼۍ کېکاږي، نو Interpreter په اتومات ډول هغه کرښه ژباړي .که په بیانیه کې کومه ستونزه وي، تفسیر کوونکی سمدستي یو پیغام پر سکرین ښیي او موجوده تېروتنه په هماغه کرښه کې مشخصوي چې باید اصلاح شي .په دې حالت کې کرسر بلې کرښې ته نه ځي، یا هم هماغه کرښه په سره رنګ ښیي .د غلطۍ له اصلاح وروسته کرسر بلې کرښې ته ځي او د لیکنې رنګ هم سم تور کېږي.

په همدې ډول کله چې پروګرام لیکونکی په دوهمه کرښه کې بیانیه ولیکي او Enter تڼۍ کېکاږي، که په روانه کرښه کې کومه تېروتنه وي، تفسیر کوونکی پیغام ښیي، او که کومه تېروتنه نه وي، نو کرسر بلې کرښې ته ځي او پروګرام لیکونکی کولی شي بل بیان ولیکي.

نو ویلی شو چې د Compiler سرعت د Interpreter په پرتله زیات وي، ځکه Compiler ټول پروګرام په پای کې یوځل اجرا کوي.

# دوهم فصل

دا فصل د الګوریتم(Algorithm) ، فلوچارت او په پروګرام لیکنه کې د هغوی د رول په اړه دی، چې موضوعګانې یې په ترتیب سره په تفصیل سره څېړل شوې دي.

د مسایلو د حل لپاره تر ټولو زیات کارېدونکې دوه وسیلې عبارت دي له:

۱ .الګوریتم

۲ .فلوچارت

## الګوریتم(Algorithm)

د الګوریتم کلمه د نهمې پېړۍ د مشهور عرب ریاضي‌دان الخوارزمي له نوم څخه اخیستل شوې ده. دا نوم د وخت په تېرېدو سره له Alkhowarism څخه Algorism او بیا بالاخره د Algorithm په بڼه بدل شوی دی.

الګوریتم د ساده جملو مجموعه ده چې په انګلیسي ژبه او حسابي جملو سره لیکل کېږي (Klousen, 2017).

الګوریتم یو مرحله‌وار پروسیجر دی چې د بېلابېلو مسایلو د حل لپاره کارول کېږي (Backman, 2012).په بل عبارت، الګوریتم د یوې مسألې مرحله په مرحله حل دی چې په اسانۍ سره د پوهېدو وړ وي .په حقیقت کې الګوریتم د مشخصو مرحلو مجموعه ده چې د هغو له تېرېدو وروسته مطلوبې نتیجې ته رسېږو.(Lippman, 2002)

### ۱.۴ د الګوریتم ځانګړتیاوې(Properties of Algorithm)

هر الګوریتم باید لاندې ځانګړتیاوې ولري:

1. ساده وي.
2. واضح او مشخص وي.
3. ورودي (Input) ولري.

ketabton.com - The Digital Library

4. د مسألې لپاره یوازینی (Unique) حل وړاندې کړي.

5. له محدودو مرحلو وروسته پای ته ورسیږي.

6. لږ تر لږه یوه پایله (Output) ولري.

## د الګوریتم د جوړولو شرطونه

د دې لپاره چې د یوې مسألې لپاره الګوریتم جوړ کړو:

1. باید مسأله په سمه توګه درک کړو.

2. باید معلومه وي چې څه ډول پایله (Output) ترلاسه کوو.

3. ورودي (Input) یې باید مشخص وي.

۴. هغه پروسه چې قیمتونه (Input) داخلوي او په نتیجه کې خروجی تولیدوي، باید ډیزاین شوې وي.

۵. د الګوریتم سموالی باید ارزیابي او امتحان شي، یعنې معلومات د ازمایښتي ډول داخل شي او نتیجه یې وڅېړل شي.

۶. که مطلوبه نتیجه ترلاسه نه شي، نو الګوریتم باید بیا له سره وکتل شي.

## ۱.۵ د الګوریتم نښې (Notations of Algorithm)

د الګوریتم د لیکلو پر وخت لاندې نښې باید په پام کې ونیول شي:

I. نوم :(Name) مسأله مشخص کوي.

ii. د مرحلې شمیر :(Number Step) هره لاربنوونه د ځانګړي نمبر له لارې مشخص کیږي.

iii. تبصره :(Comments) د جملو او عملیاتو وضاحت کوي .تبصرې د مربع قوسونو کې لیکل کیږي.

iv. پیل / پای :(Beginning / Termination) د الګوریتم پیل او پای ښیي.

ketabton.com - The Digital Library

| |
|---|
| مثال 2-1الګوریتم ولیکئ چي درجه حرارت له سانتي ګراد څخه فارنهایت ته واړوي . |
| الګوریتم :د سانتي ګراد څخه فارنهایت ته د حرارت بدلول<br>مرحله 1: پیل<br>مرحله 2 : C ولولئ<br>مرحله 3 : F = 9/5 * c+ 32محاسبه کړئ<br>مرحله 4 :F ښکاره کړئ<br>مرحله 5 : پای |
| مثال2.2<br>الګوریتم ولیکئ چي مفاد محاسبه کړي، په دې شرط چې ټول سرمایه، د مفاد فیصدي او د وخت موده ورکړل شوي وي. |
| الګوریتم :د ساده مفاد محاسبه<br>مرحله 1 : پیل<br>مرحله 2 : د ټولې سرمایې قیمت، د مفاد فیصدي او د وخت موده داخل کړئ<br>مرحله 3 : مفاد محاسبه کړئ<br>مرحله 4 :د مفاد اندازه ښکاره کړئ<br>مرحله 5 : پای<br>اندازه مفاد = ټوله سرمایه + د مفاد فیصدي + د وخت موده100 / |

YAD

### ۱.۵.۱ د الګوریتم ګټې

۱. د ستونزو تعقیب آسانه دی ځکه ټولې مرحلې په ترتیب سره لیکل شوې دي.

۲ . د الګوریتم جوړول آسانه دي ځکه د پروګرامي ژبو پوهې ته اړتیا نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

۳ . الګوریتم موږ سره مرسته کوي چې پروګرام په سمه توګه وساتو.

### ۱.۵.۲د الګوریتم نواقص

۱. د پیچلو او مغلقو مسایلو لپاره د الګوریتم جوړول ستونزمن او وختاخیستونکی دی.

۲. د پیچلو مسایلو (Complex Logic) درک کول د الګوریتم په وسیله سخت دي.

### ۱.۶فلوچارت(Flowchart)

فلوچارت د الګوریتم د مرحلو تصویري بیان ته ویل کېږي .فلوچارت د مسألې د حل طریقه، اړوند حسابونه، د تصمیم نیونې نقطې او نور مهم معلومات ښیي.

فلوچارتونه د هندسي شکلونو او سمبولونو په وسیله جوړېږي .هر هندسي شکل ځانګړې دنده ښیي .دا شکلونه د تیرونو (Arrows) په وسیله سره نښلول کېږي او د یوې مسألې بشپړ حل په تصویري ډول ښیي.(Halterman, 2018)

جدول (2-1) د بېلابېلو هندسي اشکالو او د هغوی د کارونې موارد بیانوي:

| سمبول | معنی |
|---|---|
|  | آغاز / انجام(Start / End)<br>دا شکل د پروګرام د پیل او پای ښودنه کوي. |
|  | ورودي / خروجي(Input / Output)<br>دا شکل د ورودي قیمتونو د لوستلو او د خروجي ښودلو لپاره کارول کېږي. |

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
|  | پروسس کوونکی(Processing) ټول حسابي عمليات او فورمولونه په دې شکل کې درج کيږي. |
|  | تصميم نيونه(Decision) په دې شکل کې د قيمتونو مقايسه او د تصميم نيونې پروسه ترسره کيږي. |
|  | د دستورو تکرار(Repetition) دا شکل ښيي چې په کې شامل دستورات څو ځله تکراريږي. |
|  | مخکې تعريف شوې پروسه (Pre-defined Process)دا شکل د هغو محاسبو نمايندګي کوي چې مخکې تعريف شوې وي، لکه د عملياتو هغه ګروپ چې په بل ځای کې مشخص شوی وي. |
|  | ارتباط ورکوونکی(Connector) دا شکل د فلوچارت د يوې برخې د داخليدو يا وتلو نقطه له بلې برخې سره نښلوي. |
|  | د جهت ټاکونکی(Flow Direction) دا اشکال د پروسې د جريان جهت ښيي. |

ketabton.com - The Digital Library

مثال ۲.۳: فلوچارت رسم کړئ چې د ۴ مضمونونو نمرې داخل کړي، مجموعه او اوسط يې ترلاسه کړي؟




مثال ۲.۴: فلوچارت رسم کړئ چې د مثلث مساحت ترلاسه کړي او دA ، B او C ضلعې ولري؟




**۱.۶.۱د فلوچارت ګټې •** (Advantages of Flowchart) د پیچلو او مغلقو مسایلو حل د هندسي اشکالو په وسیله اسانه کوي.

- دا د پروګرام د مستندسازی (Documentation) يو ډول دی.
- د فلوچارت په وسيله پروګرام په مؤثره او اسانه ډول کوډ کېږي.
- د پروګرام د تعقیب او ازمويني لپاره ښه طريقه برابروي.
- پروګرامر ته دا زمينه برابروي چې د پروګرام هره برخه بدله کړي.

**۱.۶.۲د فلوچارت محدوديتونه •** (Limitations of Flowchart) دا طريقه د لويو، مغلقو او پيچلو مسايلو د ښودلو لپاره مؤثره نه ده، ځکه دا ډول مسايل په واضح ډول نه شي ښانولی.

ketabton.com - The Digital Library

•که کومه لاربنوونه د حلقوي (Loop) بڼه ولري، نو د هندسي اشکالو تکرار رسمول ضروري کیږي.

۱۵

### ۱.۶.۳د فلوچارتونو د رسم کولو قواعد(Rule for writing flowcharts )

•فلوچارت له پاسه ښکته یا له ښي نه چپ رسم کیږي.
•فلوچارت تل د پیل (Start) له سمبول څخه شروع کیږي او د پای (End) په سمبول ختمیږي.
•د جهت لرونکي تیرونه (Arrows) د هندسي اشکالو د نښلولو لپاره کارول کیږي.
•په هر فلوچارت کې لږ تر لږه یو د پای سمبول (End) باید موجود وي.
•شرطي شکل (Decision) باید یو داخل او دوه خارج جهتونه ولري.
•جملې او بیانیې باید د هندسي اشکالو په دننه کې ولیکل شي.

د کمپیوټري حل لارې پرمختګ(Development of Computer Solution)

### a .کوډ لیکنه(Coding)

کوډ لیکنه په حقیقت کې د الګوریتم یا فلوچارت د جملو ژباړه د پروګرام لیکنې ژبو ته ده، لکهC++ ، Java، Fortran اوPascal.

### b . ردیابي او ازموینه(Testing and Debugging)

د دې لپاره چې مطلوبه نتیجه ترلاسه شي، اړتیا ده چې لیکل شوی پروګرام وازمویل شي(Test) ، کمپایل (Compile) او اجرا (Execute) شي .د کمپایل پر وخت ځینې تېروتنې راڅرګندیږي چې د Compilerله خوا معلومیږي .دا ګرامري تېروتنې د Syntax errors په نوم یادیږي.
د پروګرام د سم کار کولو لپاره باید دا تېروتنې وپېژندل شي او اصلاح شي.
د اجرا پر وخت هم ځینې تېروتنې رامنځته کېدای شي چې د Runtime errors په نوم یادیږي .لکه

ketabton.com - The Digital Library

که یو عدد په صفر تقسیم شي، داسي پیغام ښودل کېږي" :هیڅ عدد په صفر نه شي تقسیم کېدای ."دا ډول تېروتني د پروګرام په اصطلاح کي Bugs بلل کېږي.(Halterman, 2018)

## ۱.۷ معنوي تېروتني(Semantic Errors)

که موږ د رياضيي عبارت Y = B + A واخلو، ليدل کېږي چي A او B سره جمع کېږي او نتيجه په Yکي ذخيره کېږي .خو که دا عبارت داسي وليکل شيY = B + A ، نو که څه هم محاسبه سم ترسره کېږي، خو نتيجه په Y کي په سمه توګه نه ذخيره کېږي .دا ډول تېروتنه معنوي تېروتنه (Semantic Error)بلل کېږي.(Stroustrup, 2013)

۳ فصل :د تېروتنو ردیابي(Debugging)

دا پروسه د تېروتنو (Bugs) پېژندنه او پاکول دي .ځیني وختونه په پروګرام کي داسي تېروتني موجودي وي چي د منطقي تېروتنو (Logical Errors) په نوم يادېږي.(Oualline, 1995)

YAD

ketabton.com - The Digital Library

# دریم فصل

په دې فصل کې د C++ پروګرام لیکنې ژبه، د پروګرام جوړښت، کلیدي دستورونه، ثابتونه او د هغوی ډولونه، متغیرونه او د مختلفو ډیټا ډولونه تر بحث لاندې نیول شوي دي.

د C++ پروګرام لیکنې ژبه د نورو پروګرام لیکنې ژبو په پرتله د لوړې کچې یو لړ برتریوې لري چې عبارت دي له:(Rama, 2011)

- دا یوه قوي او ځواکمنه ژبه ده.
- زیاتره د سیستم سافټویر (System Software) او تطبیقي سافټویر (Application Software) د جوړولو لپاره کارول کېږي.
- د ډیټا ډولونو (Data Types) او عملګرونو (Operators) زیات ډولونه لري چې د سرعت او کارکردګۍ سبب ګرځي.
- د آزاد پلیټفارم (Platform) ژبه ده او انتقال وړتیا لري .زیاتره هغه پروګرامونه چې په C++ کې لیکل کېږي، په ټولو عملیاتي سیستمونو کې اجرا کېدای شي.
- له شیءګرا (Object Oriented) ژبو څخه ده.

## ۱.۹ د C++ ژبې تطبیق(Application of C++)

C++ژبه زیاتره د سیستمونو او تطبیقي پروګرامونو د پرمختګ لپاره کارول کېږي، لکه (Rama, 2011):

1. کمپایلرونه(Compilers)
2. تفسیر کوونکي(Interpreters)
3. عملیاتي سیستمونه(Operating Systems)

ketabton.com - The Digital Library

4. د ډيټابېس مديريت سيستمونه(DBMS)

5. د MS Word پروګرام

6. د MS Excel پروګرام

7. ګرافيکي پروګرامونه(Graphics Packages)

8. ساينسي او انجينري پروګرامونه

### ۱.۱۰د ++C د پروګرام ابتدايي جوړښت

يو ++ C پروګرام په څو برخو وېشل شوی دی چې په لاندې ډول تشريح کېږي (2011, Rama) :



ketabton.com - The Digital Library

## I . د مستندسازۍ برخه ( Documentation Section )

دا برخه د هغو ګټورو تبصرو مجموعه ده چې د کاروونکي د لارښووني لپاره کارول کېږي .که څه هم د تبصرو لیکل اجباري نه دي، خو د پروګرام د مفاهیمو، موخو او جوړښت په پوهېدو کې د کاروونکو سره مرسته کوي.

## II . د تعریف او پرۍپروسېسر برخه(Preprocessor and Defination Section)

دا برخه هغه فایلونه او لارښووني لري چې د # نښې سره شروع کېږي او په پای کې h. لري .دې ته د پرۍپروسېسر لارښووني (Preprocessor Directives) ویل کېږي چې دC++ د سر فایلونه پکې شامل وي.

د Preprocessor د بیانیو څو مثالونه:

```
#include <iostream.h>
#include <math.h>
```

مثال :ثابتونه (Symbolic Constants) د #define په وسیله تعریفېږي:

```
#define PI 3.14159
#define e 2.71826
```

## III . د عمومي متغیرونو برخه(Global Declaration Section)

په دې برخه کې هغه متغیرونه (Variables) معرفي کېږي چې په له یو څخه زیاتو توابعو کې کارول کېږي .دې ډول متغیرونو ته عمومي متغیرونه (Global Variables) ویل کېږي او باید د Headerفایلونو لاندې معرفي شي .یو پروګرام کې کېدای شي څو تابعې موجودې وي .د عمومي متغیرونو د معرفي ګټه دا ده چې تاسو کولی شئ هغوی په هر تابع کې پرته له بیا معرفي کولو څخه وکاروئ.

## IV . د main تابع(main Function)

ketabton.com - The Digital Library

ټول C++ پروګرامونه باید د main تابع ولري .یادونه کېږي چې په هر پروګرام کې یوازې یو mainتابع موجود وي.

### V . قوسونه(Braces)

ټول C++ پروګرامونه د لویو قوسونو څخه جوړ وي .د پروګرام اجرا د main تابع د پرانیستي قوس څخه شروع کېږي او د همدې تابع په تړلي قوس پای ته رسېږي.

### VI . د تعریف برخه(Declaration Part)

په دې برخه کې ټول متغیرونه، توابع، صفونه (Array) او نور معرفي کېږي .همدارنګه ابتدایي ارزښتونه (Initialization) هم په همدې برخه کې ټاکل کېږي.

### VII. د اجرا برخه(Execution Part)

دا برخه د اجرا کېدونکو جملو مجموعه ده، لکه :د داخلولو او خارجولو جملې (Input/Output Statements)، حسابي جملې(Arithmetic Statements) ، شرطي او حلقوي جملې (Control Statements)او نور .په دې برخه کې تبصرې (Comments) هم شاملېدای شي . لکه څنګه چې مخکې وویل شول، کمپایلر تبصرو ته پام نه کوي او هغه د اجرا وړ نه ګڼي .د تعریف او اجرا برخې باید د لویو قوسونو ترمنځ وي .هره اجرایي جمله د سیمي کولن (;) په وسیله ختمېږي (Balagtas, 2006).

### VIII . د فرعي توابعو برخه(Subroutine Section)

دا برخه اختیاري ده او هغه توابع پکې شامل وي چې د پروګرام لیکونکي له خوا جوړ شوي وي (User Defined Functions)او د main تابع څخه اجرا کېږي.

۲۳ مثال ۳.۱

```
/* Program to print a message */
#include <iostream.h>
main ( )
```

ketabton.com - The Digital Library

د لومړی سطر د مستندسازئ (Documentation) برخې پورې اړه لري. دا برخه د تبصرو مجموعه ده چې د پروګرام د نوم او د کوډ د تشریح لپاره کارول کیږي. دوهم سطر د پرې‌پروسېسر بیانیه (Preprocessor Directive) ده چې د کتابتون سره اړیکه جوړوي او د cout دستور ته مرسته ورکوي تر څو د پروګرام نتیجه په سکرین ښکاره کړي. دریم سطر د اصلي تابع (main) پورې اړه لري. ټول C++ پروګرامونه باید یو اصلي تابع ولري.

پاتې برخه د اجرایي برخې (Execution Part) پورې اړه لري چې پکې اجرایي بیانیې شاملې دي . د تعریف برخه (Declaration) او اجرایي برخه باید د قوسونو {} ترمنځ وي. هره بیانیه د سیمي کولن (;) په وسیله ختمیږي. پروګرام د پرانیستي قوس څخه شروع او د تړلي قوس په وسیله پای ته رسیږي.(Nawaz, 2006)

**په C++ کې تبصرې(Comments in C++)**

په C++ کې دوه ډوله تبصرې شتون لري:

ketabton.com - The Digital Library

**یو سطري تبصره (Single-line Comment) :** کله چې غواړئ په خپل پروګرام کې یو سطري تبصره ولیکئ، نو د Single-line comment څخه استفاده کیږي .دا تبصره تل د دوه سلشونو (//) سره شروع کیږي.

مثال:

```
// This is my first program in C++
```

**تبصره څو سطري (Multiline Comments)**

کله چې غواړئ په خپل پروګرام کې څو سطري تبصره ولیکئ، نو د multiline comments څخه استفاده کولی شئ .دا ډول تبصره تل د */ په وسیله شروع کیږي او د /* په وسیله ختمیږي.

مثال:

**طور مثال:**

```
/* This is
my first
program in C++ */
```

YAD

دا باید یادونه وشي چې تبصرې د اجرا وړ نه دي (Non-executable) او د کمپایلر له خوا له پامه غورځول کیږي کیږي (Ignore) .(یو پروګرامر کولی شي په خپل پروګرام کې څو تبصرې وکاروي .د تبصرو هدف دا دی چې د کوډ معنا او تشریح نورو کسانو ته واضح کړي .هڅه باید وشي چې تبصرې لنډې او واضح وي.

دOutput Operator (cout)

لاندې بیانیه ته وګورئ:

```
cout << "Programming in C++ is fun";
```

په دې کې cout د دې لپاره کارول کیږي چې د پروګرام نتیجه د ښودلو برخې (screen/output device)ته واستوي. cout د console output مخفف دی.

coutداسې تلفظ کیږي) :سي اوټ (او دا یو مخکې تعریف شوی (pre-defined) عملګر دی چې

ketabton.com - The Digital Library

د نتايجو د ښودلو لپاره کارول کيږي.(Nawaz, 2006)

په عمومي ډول، هغه معلومات چې cout ته ورکول کيږي د حروفو په سلسله بدليږي.

عملګر >> د insertion operator په نوم يادېږي، چې خپل ښي لوري معلومات خپل چپ لوري objectته استوي.




شکل 3.2 په کارولو سره خروجی cout

YAD

ketabton.com - The Digital Library

**مثال ۳.۲ لاندې پروګرام د cout په کارولو سره حروفي قیمت پر سکرین ښکاره کوی**

```
#include <iostream.h>
#include <string> // used for string data type main ( )
{
  // Declaration    string First_Name = "Habibullah ";    string Last_Name  =
"Barakzai ";    cout << "The Complete Name is : " << First_Name << Last_Name;
return 0;
  }
```

**Output**

```
The Complete Name is : Habibullah Barakzai
```

YAD

## داخلولو عملګر ( Input Operator-cin)

لاندې بیانیه ته وګورئ:

```
cin >> marks;
```

په C++ ژبه کې cin د دې لپاره کارول کیږي چې د کیبورډ له لارې معلومات داخل کړي د. cin د Console Input مخفف دی. دا عملګر پروګرام دې ته اړ باسي چې انتظار وکړي تر څو کاروونکی د کیبورډ څخه د marks ارزښت داخل کړي .وروسته داخل شوی ارزښت د marks په متغیر کې ذخیره کیږي.

cinداسي تلفظ کیږي  سي ان  او دا یو مخکې تعریف شوی (pre-defined) عملګر دی چې د کیبورډ څخه د معلوماتو د اخیستلو لپاره کارول کیږي.(Rama, 2012)

عملګر >> د extraction یا get from په نوم یادیږي، چې د کیبورډ څخه معلومات اخلي او په ښي لوري متغیر کې یې ذخیره کوي.

ketabton.com - The Digital Library




شکل ۳.۳ د cin په وسیله ورودي

**مثال لاندې پروګرام د یو کس نوم، تخلص او عمر د کیبورډ څخه اخلي او په سکرین یې ښيي3.: 3**

```
#include <iostream.h>
#include <string> // used for string data type main ( )
{
  // Declaration
string FName;   string
LName;   int Age;
  cout <<" Enter your first and second name and your age please : ";   cin >>
FName >> LName >> Age;   cout << "Your full name is :" << FName << "  " <<
LName << "\n";   cout << "You are " << Age << " years old";   return 0;
  }
```

ketabton.com - The Digital Library

**Output**

Enter your first and second name and your age please : Asma Gul 8 Your full name is : Asma Gul

You are 8 years old

د داخلولو او خارجولو عملګرو تکرار( CASCADING OF I / O OPERATORS)

کله چې د >> او << عملګرونه په یوه بیانیه کې څو ځله وکارول شي، دې حالت ته د عملګرو تکرار (Cascading) ویل کیږي.

د خروجی عملګر << مثال:

```
cout << " Simple Interest = " << SI << "\n";
```

په همدې ډول د داخلولو عملګر >> هم داسې تکرار کېدای شي:

```
cin >> Prin >> Rate >> Year;
```

په دې دستور کې معلومات له چپ څخه ښي لوري ته په متغیرونو کې ذخیره کیږي .یعنې لومړی ارزښت پهPrin ، دوهم په Rate او دریېم په Year کې ذخیره کیږي .باید د >> او متغیرونو ترمنځ مناسب فاصله(space)

ورکړل شي تر څو نتیجه واضح وي.

ketabton.com - The Digital Library

| مثال(3.4) پروګرام د قائم الزاویه مثلث مساحت محاسبه کوي: |
|---|
| <pre>// Program finds area of triangle<br>  #include <iostream.h><br>   main ( )<br>{<br>     double Base, Hight, Area;<br>     cout << " Enter value for Base and Hight of a triangle: " ;       cin<br>>>Base >> Hight;           Area = Base * Hight / 2;<br>     cout << " The area of Triangle = " << Area;<br>{</pre> |
| **Output**<br>Enter value for Base and Hight of a triangle  :  10      5           The area of Triangle = 25 |

YAD

## د ++C د حروفو مجموعه(C++ Character Set)

د حروفو مجموعه هغه ټول سمبولونه دي چې د معلوماتو د ورانديې کولو لپاره کارول کيږي، لکه الفبا، ارقام او ځانګړي سمبولونه.(Rama, 2011)

جدول ۳.۱ د ++C د حروفو مجموعه

| | |
|---|---|
| الفبا(Alphabets) | يکي لوی حروف Aتر Z او کوچني حروف aتر z شامل دي.ارقام(Digits) |
| ځانګړي سمبولونه (Special Symbols) | يکي 0 تر 9 ارقام شامل دي |

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
| tilde ~<br>back quote `<br>exclation !<br>hash #<br>percentage %<br>caret ^<br>ampersand &<br>double quote “<br>single quote<br>(apostrophe) ‘ left<br>parantheses ( right<br>parantheses )<br>left braces {<br>right braces }<br>left bracket [<br>right bracket ]<br>plus sign +<br>minus sign -<br>asterisk *<br>slash /<br>underscore _<br>equal sign =<br>backslash \<br>semi colon ;<br>colon : -<br>comma , dot .<br>- | سمبولهايخاص<br>**(Special symbols)** |

YAD

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
| | less than <<br>greater than ><br>question mark ?<br>vertical bar \| - |
| فاصله های خالی<br>)White spaces( | )form شامل خاليگاها (spaces، tab، )\v, \t(<br>feed و \n (خط جديد) |

### ۱.۱۱ د ++C اجزا(C++ Tokens)

د ++C يو پروګرام د هغو عناصرو مجموعه ده چې د توکن (Token) په نوم ياديږي .توکن د پروګرام تر ټولو کوچنی عنصر دی. په ++C کې بېلابېل ډول توکنونه شتون لري چې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي .يو توکن کېدای شي د يو يا څو ++C حروفو څخه جوړ وي.

جدول ۳.۲ توکنونه

| توکنونه | د کاروني موارد |
|---|---|
| دستوري کليدي(Keywords) | لکه: do، int ، for او نور |
| شناسه(Identifiers) | لکه د متغيرونو نومونه: sum، area ، number او نور |
| ثابتونه(Constants) | لکه: 250، 5.25 ، -200 او نور |
| سلسله حروف(Strings) | لکه: "College" ، "2+3" او نور |
| عملګرونه(Operators) | لکه: +، -، *، /، ++ او نور |
| ځانګړي سمبولونه (Special Symbols) | لکه: !، #، [، ]، {، } او نور |

ketabton.com - The Digital Library

### ۱.۱۱.۱دستوري کلیدي(Keywords)

Keywordsهغه کلمې دي چې د ځانګړو موخو لپاره کارول کېږي. دا د ++C مخکې نه تعریف شوي (reserved) کلمات دي چې ځانګړې معنا لري او یوازې د ټاکلو موخو لپاره کارول کېږي. ټول Keywords باید په کوچنیو حروفو ولیکل شي. دا کلمات د متغیرونو د نوم په توګه نه شي کارول کېدای.(Buard, 2005)

د ++C د کلیدي دستورو (Keywords) معیاري لست په لاندې ډول دی:

| | | | |
|---|---|---|---|
| Asm | Double | Not | Switch |
| Auto | else | operator | Termplate |
| break | enum | private | this |
| case | extern | protected | throw try |
| catch | float | public | typedef |
| char | for | register | union |
| class | friend | return | unsigned |
| const | goto | short | virtual |
| continue | if | signed | void |
| default | inline | sizeof | volatile |
| delete | int | static | while |
| do | long | struct | |

YAD

ketabton.com - The Digital Library

## ۱.۱۱.۲ شناسه(Identifiers)

• شناسه هغه نوم ته ویل کیږي چې د متغیرونو(variables) ، توابعو (functions) او صفونو (array) لپاره په پروګرام کې کارول کیږي.

• شناسه د کرکټرونو یوه مجموعه ده چې د حروفو(A–Z)، (a–z) ، ارقامو (0–9) او underscore (_)څخه جوړه وي.

• C++ یو Case Sensitive ژبه ده، نوALFA ، Alfa او alfa له یو بل سره توپیر لري.

• د underscore (_) سمبول عموماً د نوم په منځ کې کارول کیږي، لکهName_F :

• د Identifier د نوم اوږدوالی عموماً د 8 تر 10 کرکټرونو پورې وي، خو په اصل کې کوم محدودیت نه لري او اوږد هم کېدای شي.

• Identifier باید په حرف شروع شي، وروسته کولی شي حروف، ارقام یا دواړه ولري .دا له عدد څخه نه شي شروع کېدای.

• په C++ کې کلیدي کلمې (Keywords) ځانګړي مانا لري او د نورو موخو لپاره نه شي کارول کېدای، لکه int چې د متغیر نوم په توګه نه شي استعمالېدای.

VAD

مجاز شناسه‌ګان (Valid Identifiers) عبارت دي له:

Sum, avg _ marks, x1, y2, PINCODE, Total

غیر مجاز شناسه‌ګان (Invalid Identifiers) عبارت دي له:

10th, S.I, total amount, Std – no

## ۱.۱۱.۳ ثابتونه(Constants)

هغه ارزښت ته چې د پروګرام د اجرا پر مهال نه بدلیږي، ثابت (Constant) ویل کیږي .د C ++ ژبه څو ډوله ثابتونه لري.

ketabton.com - The Digital Library

## د ثابتونو ډولونه(Types of Constants)

په عمومي ډول د C++ ثابتونه په دوو برخو وېشل کېږي:

1. ابتدايي ثابتونه

2. ثانوي ثابتونه

دا ثابتونه بيا په نورو ډولونو هم وېشل شوي دي لکه لاندې:




شکل ۳.۴ د ثابتونو ډولون

**ټول عددی ثابتونه(Integer Constants)**

عددي ثابتونه هغه ثابتونه دي چې له عددونو څخه جوړ وي .په عموم کې د integer ثابتونو درې ډولونه شتون لري:

- (Decimal system) ۱۰ قاعده
- (Octal system) ۸ قاعده
- (Hexa Decimal system) ۱۶ قاعده

ketabton.com - The Digital Library

جدول ۳.۳ د تامو ثابتونو ځانګړتیاوې

| د ۱۶ قاعدې تام | د ۸ قاعدې تام | د ۱۰ قاعدې تام |
|---|---|---|
| حاوی ارقام (0 تر 9 )او حروف (A تر F )چې د 10 تر 15 بنیې | حاوی ارقام (0 تر 7 ) | حاوی ارقام (0 تر 9 ) |
| باید د 0x یا 0X سره شروع شي | لومړی رقم باید 0 وي | حداقل باید یو رقم ولري |
| اعشاري نښه نه لري | اعشاري نښه نه لري | اعشاري نښه نه لري |
| کولی شي مثبت یا منفي وي | کولی شي مثبت یا منفي وي | کولی شي مثبت یا منفي وي |
| د ارقامو ترمنځ کامه او فاصله نشته | د ارقامو ترمنځ کامه او فاصله نشته | د ارقامو ترمنځ کامه او فاصله نشته |
| مثال<br>0X1 ، 0x38،:0xA1 جائز<br>0x2.5 ، 0ABC،0xEGG ناجائز | مثال<br>025 ، 044+،051 جائز<br>03 ، 45.068،540 ناجائز | مثال<br>5050 ، +17،:426 جائز<br>45.12 ،10.0 ناجائز |

YAD

## ثابتونه اعشاري(Real Constants)

هغه عددي ارزښت چې اعشاري برخه ولري، اعشاري ثابت (Real Constant) بلل کيږي .د دې ځانګړتياوې:

- لږ تر لږه بايد يو رقم ولري
- اعشاري نښه ولري
- مثبت يا منفي کېدای شي
- د عددونو ترمنځ کامه او فاصله نشته

مثال ۳.۶

| مثال6.3 |
|---|
| 2.38, ‎-6789.124, 54.0, +523.66 از جمله ثابتهای مجاز اعشاری است **در حاليکه** 11, 035, -5E 10 از جمله ثابتهای حير مجاز اعشاری ميباشدم |

کله چې اعشاري عدد ډېر لوی يا ډېر کوچنی وي، نو په دې حالت کې د علمي طريقې (Scientific Notation)څخه استفاده کيږي، چې د exponential طريقې په نوم هم ياديږي .په دې طريقه کې اعشاري عدد په دوو برخو ښودل کيږي:

هغه ارزښت چې د (e) څخه مخکې راځي د مانتيس (Mantissa) په نوم ياديږي، او هغه برخه چې د (e) څخه وروسته راځي د توان يا نما (Exponent) په نوم ياديږي.

مثال:

اعشاري عدد 516.55 ته په علمي طريقه کې داسې ليکل کېدای شي:

5.1655e2

دلته e د 10 په معنا ده، نو 2 د توان (Exponent) په توګه کارول شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

هغه قواعد چې د علمي طريقې لپاره بايد په پام کې ونيول شي:

- د مانتيس او توان برخه بايد د e په وسيله له يو بل څخه جلا شي.
- د مانتيس برخه کېداى شي مثبت يا منفي وي.
- د توان برخه بايد لږ تر لږه يو عدد ولري او دا عدد مثبت يا منفي کېداى شي.
- د علمي طريقې د اعشاري عددونو ساحه عموماً د 3.4e-38 تر 3.4e38 پورې وي.

| 7.3مثال |
|---|
| +3.2e – 5, 4.5e8,- 0.5e + 3,- 2.4E - 5 از جمله ثابت های نمادار Exponentials constant مجاز<br>در حاليکه 3E06, 4 .2e – 5.5 - ثابت های نمادار حير مجاز می باشدم |

YAD

## د حرفي ثابتونه(Character Constants)

- حرفي ثابت هغه يو حرف وي چې د يو واحد ( single quote )ترمنځ ليکل کيږي.
- يو حرفي ثابت له يو څخه زيات حروف نه شي لرلی.
- پر حرفي ثابتونو حسابي عمليات کېداى شي، ځکه چې دوی د عددي ارزښت په بڼه ذخيره کيږي.
- په C++ کې escape sequences لکه \n، \t، \b هم پېژندل کيږي.

| مثال 3.8 |
|---|
| '=' , '\|' , 'a' , 'lo\' از جمله ثابتهای مجاز حرفی ميباشد در حاليکه<br>'62' , 'a4' , 'xy' از جمله ثابتهای حير مجاز حرفی ميباشدم |

پاملرنه وشي چې حرفي ثابت '2' د عدد 2 سره يو شان نه دی .هر حرف يا کرکټر يو ثابت کوډ لري چې د ASCII code په نوم ياديږي.

لاندې جدول د ځينو حرفي ثابتونو او د هغوی د ASCII کوډونه ښيي:

| د ASCII کوډ | ثابتونه |
|---|---|
| 65<br>66<br>90<br>97<br>122<br>49<br>50<br>35 | ، A ،<br>، B ،<br>، Z ،<br>، a ،<br>، z ،<br>‘ 1 ‘<br>‘ 2 ‘<br>‘ # ‘ |

## حرفي ثابتونه(String Constants)

حرفي ثابتونه هغه د حروفو مجموعه ده چي له يو څخه زيات حروف لري او د دوه ګونو quotation marks (" ")په منځ کي ليکل کيږي .دا حروف کيداى شي الفبا، اعداد، ځانګړي سمبولونه يا خالي ځاى هم وي.

| مثال 3.9 |
|---|
| "25Read" , "Phone : 334 – 5670", "AFN .20", "" , " " له اجازى ورکړل شوو ثابتونو څخه يو هم حرفي ثابتونه دى په داسى حال کي 'Line1 \n \ Line2 \n Line3', "The Error' له اجازه شوو ثابتونو څخه يو هم حرفي ثابت ":  " د خالي حرفي ثابت په نوم null string ياديږى |

پام وکړئ چي 'A' او "A" يو شان نه دي .حرفي ثابت چي د دوه ګونو quotation marks (" ")کي وي، په اصل کي عددي ASCII ارزښت نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

۴ سمبولیک ثابتونه یا ماکرو(Symbolic Constants / Macro)

د#define preprocessor له لاربنوونو څخه دی چې د ثابتونو د تعریف لپاره کارول کېږي (Soulié, 2007).

#define name replacement-string

په دې ځای کې (name) یو متحول دی چې کولی شي عددي یا حروفي ثابت قیمت په خپل ځان کې وساتي .هر کله چې پروګرام اجرا کېږي، هر هغه ځای کې چې د متحول (name) نوم موجود وي، هغه قیمت چې د پروګرام په پیل کې دې متحول ته ورکړل شوی وي، ورسره بدلېږي .د یادوني وړ ده چې دا متحول نشي کولی له هغه قیمت څخه بل مختلف قیمت وساتي کوم چې د پروګرام په پیل کې ورته ټاکل شوی وي .په اصل کې define# متحول name مجبوروي چې یوازې هغه قیمت وساتي چې د پروګرام په پیل کې د کاروونکي له خوا ورته تعریف شوی وي او بل هیڅ قیمت نه شي اخیستلی.

ځینې مثالونه د سمبولیک ثابتها:

```
#define   Max_Marks   100
#define   PI          3.14159
#define   University  "Kabul Education University"
```

ketabton.com - The Digital Library

مثال10.3 لاندې پروګرام د يوې دايرې شعاع پيدا کوي په هغه صورت کې چې مساحت ورکړل شوې وي:

```
// Program to find redius of a circle given area
#include <iostream.h>
# define  PI    3.14159
      main (  )
     {
          float  r, area ;                cout << "\n " << " Enter
the area of circle : " ;                cin >> area ;                r =
sqrt ( area / PI ) ;
           cout << "\n" <<  "The radius of the given circle is : " << r ;
return 0 ;
    }
```

```
Output
      Enter the area of the circle : 12 . 57
      The radius of the given circle is : 2. 0029
      Enter the area of the circle : 19 . 3
    The radius of the given circle is : 2.47
```

YAD

**هغه قواعد چې د سمبوليک ثابتونو د معرفي کولو پر مهال بايد په نظر کې ونيول شي:**

- سمبوليک ثابتونه معمولاً د پروګرام په شروع برخه کې تعريف کيږي، خو کاروونکی کولای شي چې د پروګرام په هره برخه کې د استعمال نه مخکې هغه معرفي کړي.
- #define د سيمي کولن سره نه ختميږي .که چيرې په اخر کې سيمي کولن اضافه شي، مفسر (compiler)به هغه د ثابت د برخې په توګه حساب کړي.

ketabton.com - The Digital Library

• د # او define ترمنځ د سیمي کولن کارول اجازه نه لري.
• د #define او د سمبولیک نوم ترمنځ باید د یو یا دوو سپیسونو فاصله وي .همدارنګه د سمبولیک نوم او د هغه د قیمت ترمنځ هم فاصله باید په نظر کې ونیول شي.
• د سمبولیک نوم تعریف کول باید هماغه قواعد تعقیب کړي چې د یو متغیر (variable) د نوم لپاره کارول کیږي .معمولاً سمبولیک نومونه په لویو تورو لیکل کیږي تر څو له عادي متغیرونو څخه جلا وپیژندل شي.
• تاسو نشئ کولای چې د پروګرام په منځ کې د سمبولیک نوم لپاره د پیل نه ټاکل شوی قیمت بدل کړئ.
• کله چې پروګرام اجرا کیږي، هر ځای چې سمبولیک نوم وي، خپل قیمت په اوتومات ډول له هغه ځایه اخلي چې تعریف شوی وي.

د بیلګې په توګه:

```
#define PI 3.14159

Curricum = 2 * PI * Radius ;
.........................
Cout <<"  \n PI value =   " << PI ;
```

کله چې پروګرام اجرا شي، سمبولیک نوم PI په خپل قیمت بدلیږي او جمله دا بڼه اخلي:

```
Curricum = 2 * 3.14159 * Radius ;
```

فکر وکړئ که ماکرو په لاندې ډول تعریف شوی وي:

```
#define PI 3.14159 ;
```

یعني که د ماکرو د نوم په اخر کې سیمي کولن اضافه شي، نو جمله به په لاندې ډول شي:

```
Curricum = 2 * 3.14159 ; * Radius;
```

ketabton.com - The Digital Library

دا کار سبب کېږي چې پروګرام په سمه توګه اجرا نه شي.

د ماکرو ځينې ناسم مثالونه په لاندې ډول دي:

```
# define SUM = 0
# define TOTAL 100 ;
# defineA 10 , B 20
# DEFINE COUNT 10
```

• که چېرې يوه جمله يا اوږد حروفي قيمت په #define کې داسې تعريف شي چې څو کرښې ولري، نو اړينه ده چې د هرې جملې په اخر کې (back slash) \ واچول شي او پاتې جمله په نوې کرښه کې وليکل شي. د \ ليکلو هدف دا دی چې مفسر (compiler) ته وښيي چې جمله لا دوام لري.

**بېلګه 11.3 :لاندې پروګرام د دايرې شعاع پيدا کوي کله چې د هغې محيط ورکړل شوی وي .**

```
// Program to find radius of a circle given the circumference  #
include <iostream.h>  # define  PI    3.14159
      main (  )
     {
           float  r, circum ;              cout << “\n “ << “ Enter the circumference of
a circle  : ” ;              cin >> circum ;              r = circum / ( 2 * PI ) ;
cout << “\n“ <<  “The radius of the given circle is : “ << r ;             return 0 ;
    }
```

ketabton.com - The Digital Library

```
Output
    Enter the circumference of the circle :  8
   The radius of the given circle is :        1 . 27
```

**د ماکرو ګټې**

- د ماکرو کارول پروګرامونه ساده او منظم کوي.
- د ماکرو نوم باید مانادار وي او کاروونکي سره مرسته وکړي چې پوه شي کوم ډول قیمت پکې ساتل شوی دی.
- د ماکرو کارول پروګرام کې بدلون راوستل اسانه کوي .دا اسانه ده چې د ماکرو قیمت بدل شي، پر ځای د دې چې په هر ځای کې د متغیر قیمت بدل شي.
- د ماکرو کارول پروګرام لوستل اسانه کوي.

## ۱.۱۲ مفهوم Escape Sequences

د (backslash) / ښخه وروسته یو ځانګړی حرف راځي او یو ځانګړی عمل ترسره کوي .د دې نښو ترکیب ته escape sequence ویل کیږي.(Deitel, 2012)

د بېلګې په توګه:

```
cout <<   " \n this is easy !!"   ;
```

دا جمله په نظر کې ونیسئ.

په دې جمله کې \n د escape sequence بېلګه ده او د دې لپاره کارول کیږي چې کرسر نوې کرښې ته لاړ شي او وروسته جمله this is easy په سکرین وښيي .که وغواړئ چې یو حروفي متن په ځو کرښو کې چاپ کړئ، نو \n وکاروئ تر څو هغه متن چې د کرسر وروسته راځي په نوې کرښه کې چاپ شي .که د متن یا جملې په اخر کې \n نه وي، نو بله جمله به هم د مخکنۍ جملې په دوام په هماغه کرښه کې ښکاره شي.

ketabton.com - The Digital Library

| بېلګه 12.3: لاندې پروګرام د n\ کارول ښيي. |
|---|
| main ( )<br>{<br>cout << "This \n string \n will \n be \n printed \n in \n 8 \n Lines. ";          return 0 ;<br>} |
| **Output**<br>This<br>String |
| **will**<br>**be**<br>**printed**<br>**in**<br>**8**<br>**Line** |

YAD

که که وغواړئ د اوردې جملې يوه برخه په بلې کرښه کې ښکاره شي، نو n\ د هماغې مطلوبې برخې په پيل کې وليکئ. په ياد ولرئ چې ټول escape sequence ګاني د \ څخه پيل کيږي. نور escape sequenceګانې چې په C++ کې شته، په لاندې ډول دي:

ketabton.com - The Digital Library

جدول 4.3 د escape sequence کرکټرونو تشریح

| وظیفه | escape sequence |
|---|---|
| برنامه د اجراپر مهال غږ کوی<br>د سوال نښه ده<br>د یوSpaceشاته تګ<br>د output د پیل ته بیرته تګ.<br>Form feed<br>د tab په اندازه ټوپ وهل<br>عمودی tab<br>خالي کرکټر AscII<br>نوی کرښې ته تګ<br>نښه doubie quotation<br>Backslash<br>خالي<br>قوس نا خنک یګانه ( single<br>(quotation | \a<br>?\<br>\b<br>\r<br>\f<br>\t<br>\v<br>0\<br>\n<br>"\<br>\\<br>0\<br>'\ |

## ۱.۱۳ متحولونه (Variables)

متحول  یو نوم دی چې د RAM حافظې یوې برخې ته ورکول کیږي او هماغه برخه د ځان لپاره ځانګړې (Reserve) کوي .کله چې متغیر ته قیمت ورکړل شي، نو په هماغه ځانګړې شوې حافظه کې په موقتي ډول ذخیره کیږي.(Klousen, 2017)

متغیر یوازې یو قیمت په یوه وخت کې په ځان کې ساتلی شي .یعنې هر نوی قیمت چې په متغیر کې ذخیره شي، د مخکیني قیمت ځای نیسي .دا قیمت کېدای شي عددي یا حروفي وي .متغیر کولی شي د پروګرام د هر اجرا په وخت کې مختلف قیمتونه په ځان کې وساتي.

| بیلګه 13.3 |
| --- |
| لاندي د C++ پروګرام برخه په نظر کې |

```
:    int x, y, z
:    char p;
X = 1;          /* value 1 is assigned to x */
Y = 2;          /* value 2 is assigned to Y */
Z = 3;          /* value 3 is assigned to Z */
X = Y + Z;      /* value X changes to 5 */
P = 'A'         /* value 65 is assigned to P */
Y = 6;          /* value of Y changes to 6 */
Z = 7;          /* value of Z changes to 7 */
P = 'a';        /* value of P changes to 97 */
```

له پورته بيلګې څخه څرګندیږي چې یو متغیر کولی شي په یوه پروګرام کې مختلف قیمتونه ذخیره کړي.

**په C++ کې د متغیر نومولو قواعد**

- د متغیر نوم باید د حرف څخه پیل شي او وروسته تري حروف، اعداد یا د دواړو ترکیب راځي.
- د متغیر د نوم په جوړښت کې د ( _ ) underscore پرته بل سمبول کارول اجازه نه لري.
- د C++ ژبه case sensitive ده، له همدې امله counter ، Counter او COUTNER درې جلا متغیرونه دي.
- د C++ کلیدي کلمې د متغیر د نوم په توګه نشي کارېدلی.
- د متغیر د نوم د حروفو ترمنځ space ورکول اجازه نه لري.
- ښه ده چې د متغیر نوم لنډ او مانادار وي.

| بیلګه 14.3 |
| --- |
| Sum_total, avg _ htد مجاز متحولونو له جملي څخه دي، په داسي حال کې چې No#, th50, Lotus 123د نامجاز متحولونو له جملي څخه ګنل کیږي. |

## د ډيټا ډولونه(Data Types in C++)

په ++C ژبه کې څلور ډوله ډيټا شته چې عبارت دي له:(Backman 2012)

- بشپړ عدد یا(Integer (int
- حرف یا(character (char
- اعشاري د ساده دقت سره(floating (float
- اعشاري د دوه چنده دقت سره(double)

هر data type ځانګړي خصوصیات او ظرفیت لري چې په لاندې جدول کې تشریح شوي دي.

جدول 5.3 د ډيټا ډولونو تشریح

| د ډيټا ډول (Data Type) | تشریح | اندازه په بایت | د تعریف ساحه |
|---|---|---|---|
| Int | یوازې بشپړ اعداد په ځان کې ذخیره کوي | 2 | 32767- الی 32768 |
| Char | یوازې یو حروف په ځان کې ذخیره کوی | 1 | 127- الی 128 |
| Float | اعشاري اعداد د ساده دقت سره چې تر 7 رقمو پورې د اعشاري وروسته بنيي په ځان کې ذخیره کوی | 4 | 3.4E-38 الی 3.4E+38 |
| Double | اعشاري اعداد د دوه چنده دقت سره تر 15رقمو پوري د اعشاري ورسته بنيي ،په ځان کې ذخیزه کوي | 8 | 1.7E-308 الی 1.7E+308 |

### د بشپړو اعدادو ډولونه(Integer Data Types)

دا د ډيټا ډول (int) یوازې بشپړ اعداد لري او اعشاري اعداد نه ساتي.

د integer مختلف ډولونه په لاندې ډول دي:

ketabton.com - The Digital Library

**a . بې نښې بشپړ عدد (unsigned int)**

هغه متغیر چې د(unsigned int)  ) په ډول تعریف شي، په حقیقت کې خپل ټول بیټونه د مثبتو بشپړو اعدادو د ذخیره کولو لپاره کاروي او هېڅ بیټ د نښې (مثبت یا منفي ) د معلومولو لپاره نه ځانګړی کوي.

**b . کوچنی نښه لرونکی بشپړ عدد( short int )**

دا د ډیټا ډول د کوچنیو بشپړو اعدادو د ذخیره کولو لپاره کارول کېږي.

**c . کوچنی بې نښې بشپړ عدد( unsigned short int)**

کله چې متغیر د (int short unsigned) په ډول تعریف شي، معنا یې دا ده چې یوازې مثبت کوچني بشپړ اعداد په ځان کې ساتلی شي.

**d . لوی بشپړ عدد( long int)**

دا د ډیټا ډول د لویو بشپړو اعدادو لپاره کارول کېږي.

**e . لوی بې نښې بشپړ عدد( unsigned long int)**

په دې حالت کې د نښې بیټ له منځه ځي او حافظه دوه چنده کېږي، او کولی شي لوی مثبت بشپړ اعداد په ځان کې ذخیره کړي.

لاندې جدول د ډیټا ډولونه(data types) ، د اندازې ظرفیت (bytes in size) او د بشپړو اعدادو د تعریف ساحه (range) ښیي:

جدول 6.3 د ډيټا ډولونو تشريح

| د ډيټا ډول (Data Type) | اندازه په بايت (Size in bytes) | ساحه تعريف د (Range) |
|---|---|---|
| کوچنی بي نښي بشپړ عدد unsigned short | 2 | 0 تر 65535 |
| کوچنی نښه لرونکي بشپړ عدد signed short | 2 | 32768 تر - 32767 + |
| بشپړ عدد unsigned int | 4 | 0 تر 4294967295 |
| بشپړ عدد signed int | 4 | + 2147483647 - 2147483648 |
| لوی بشپړ عدد (long ) | 8 | 0الی 40273322.9 81 +E |
| (unsigned char ) بی نښي حرفي | 1 | 0 تر 255 |

YAD

43

د اعشاري ساده دقت ډيټا ډول( Float Point Data Types )

موږ کولی شو د اعشاري ساده دقت ډيټا ډول د float کليدي دستور په کارولو سره تعريف کړو .

floatڅلور بايت حافظه ځانګړې کوي او تر شپږو اعشاري ځايونو پورې په عملياتو کې دقيق وي.

## د اعشاري دوه چنده دقت ډيټا ډول( Double Precision Data Types)

دا ډيټا ډول کولی شي لوی اعداد په ډېر لوړ دقت سره محاسبه کړي او نتيجه وړاندې کړي double . اته بايت حافظه ځانګړې کوي او تر 14 رقمو پورې د اعشاريه وروسته په لوړ دقت سره محاسبه ترسره کوي .د دې ډيټا ډول د تعريف لپاره د double کليدي دستور کارول کيږي.

## د حرفي ډيټا ډول(Character Data Type)

دا ډيټا ډول کولی شي يو حرف يا د ASCII يو کرکټر په ځان کې ذخيره کړي .د دې ډيټا ډول ظرفيت يو بايت دی او د char کليدي دستور په وسيله تعريف کيږي .که د نسبي بيټ په نظر کې ونه نيول شي، دا ډيټا ډول کولی شي د 0 څخه تر 255 پورې عدد په ځان کې وساتي.

## ۱.۱۴د متغيرونو معرفي کول(Declaring Variables)

د متغيرونو معرفي کول د ډيټا ډول او د متغير نومونه لري چې په اخر کې يې سيمي کولن (;) ليکل کيږي .دا اعلاميه (declaration) په حقيقت کې مفسر (compiler) ته د متغير د نوم او ډول په اړه معلومات ورکوي.

د متغير د معرفي کولو جوړښت په لاندې ډول دی:

;data – type a1, a2, a3 , ……. an

دلته a1، a2 ، a3 او an د متغيرونو نومونه دي او د data-type په برخه کې له مخکې څخه معرفي شوی يو ډول لکه( int ، float )او نور ليکل کيږي .که له يوه څخه زيات متغيرونه تعريف شي، نو a1، a2 ، a3 د کامې په وسيله له يو بل څخه جلا کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

| بېلګه15.3 |
| --- |
| int x, y, z ;<br>float avg, sum ;<br>char ans ;<br>double amount ; |

دلتهx ، y او z د int ډول څخه، avg او sum د float ډول څخه، ans د char ډول څخه او amount دdouble ډول څخه معرفي شوي دي .دغه متغيرونه په لاندې ډول هم معرفي کولی شو:

```
int x;
int y;
int z;
float avg;
float sum;
char ans;
```

YAD

د متغيرونو ډولونه په لاندې ډول هم معرفي کولی شو:

```
short int count ;
long int fact ;
```

ځکه چې short int اوshort يو شان مفهوم لري او long int او long هم يو شان مفهوم لري، نو پورته جملې په لاندې ډول هم ليکل کېدای شي:

ketabton.com - The Digital Library

```
short count ;
long fact;
```

### ۱.۱۴.۱ متغیرونو ته د قیمتونو ورکول(Assigning Values to Variables)

تاسو کولی شئ په دري طریقو سره قیمتونه په متغیرونو کې ذخیره کړئ:

1. د اعلان په برخه کې(Declaration part)
2. د پروگرام د اجرا په برخه کې (Executable part) د = نښې په کارولو سره
3. د Keyboard په وسیله

د= Assignment Statement

کله چې غواړو یو قیمت په متغیر کې ذخیره کړو، نو د = نښه کاروو.

د دې عمومي شکل په لاندې ډول دی:

| |
|---|
| Variable_name = Constants / Variable / Expression; |

بیانیه لاندې په نظر کې ونیسئ:

```
Total = 0;
```

دا بیانیه ښیي چې قیمت 0 چې د = ښي لوري کې قرار لري، د = چپ لوري متغیر (Total) کې ذخیره کیږي .د = په ښي لوري کې کولی شو ثابت قیمت، متغیر او یا داسې عبارت ولیکو چې دواړه (ثابت او متغیر) ولري.

د بېلګې په توګه:

```
Sum = marks 1 + marks 2;
```

ketabton.com - The Digital Library

په دې فورمول کې د = ښي لورى ارزول کېږي او بيا د marks1 او marks2 مجموع په Sum متغير کې ذخيره کېږي.

Count = Count + 1

په دې بيانيه کې د Count پخواني قيمت ته 1 اضافه کېږي او نوى نتيجه بيا په هماغه متغير Countکې ذخيره کېږي .که د Count لومړنى قيمت 10 وي، نو نوى قيمت يې 11 کېږي.

**مثال 16.3 د متغيرونو ته قيمت ورکول د اعلان په برخه کې (part Declaration):**

```
// Assigning value to variables in the declaration part
        .
        .
        .
        int  x = 1 , y = 2,  z = 3 ;
float  avg = 0.0 , pi ;
char     opt = ' y ' ;
```

Examples of assigning values to variables in the executable part are :

د اجرايي برخې (executable part) کې متغيرونو ته قيمت ورکولو مثالونه:

```
pi = 3.14159 ;
total = 0 ;
opt = 'N' ;
```

